

# واده شوي انجلۍ سره مینه

[illegible]

په مړو ایرو باندې ډیوه بلوم

Ketabton.com

لیکوال: صفی الله همدرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه کیسه

واده شوي انجلی سره مینه

---

د خوږ وطن پایتخت کابل کې مې شپې سبا کولې خو دلته تل پاتې نه وم، د ترورزي (امید) سره مې د غاښونو په یوه لابراتوار کې کار کولو، نیږدې ورځو کې مو د یوه بل ترورزي واده وو، هره ورځ به یې تلیفون راته کولو چې، کله راځې واده ته د ګوتو په شمار ورځې پاتې دي ته خو باید یو څو ورځې مخکې راشي چې له ما سره کومک وکړې. ورځې او شپې یو په بل پسې تیریدې، داسې وخت هم راغلو چې، د واده نیټه معلومه شوه. د دوشنبې ورځ یې د واده ورځ وټاکله، د واده نه دوه ورځې مخکې د شنبې په سهار اته بجې زه د کابل نه د واده لپاره خوست ته روان شوم، دا چې شنبه کابل کې د موټرو او خلکو زیات رش و، نهه نیمې بجې وې چې، د هډې له یوه موټروان سره مې په ټکسي موټر کې د ښکلي خوست په لور لاره ونیوه. واده ته مې ډېره تلوسه وه، ډېر وخت وروسته مې د ترور په کور کې ښادي وه، د ماسپیښین څه کم دوه بجې وې چې په خوست ښار کې له موټر نه ښکته شوم، څه شیبه وروسته مې پلار جان راته زنګ وکړ، د حال احوال پوښتلو وروسته یې راته وویل چې، زما کار ځای ته راشه ( پلار مې په یوه دواخانه کې په تنخوا (معاش) کار کولو) نو سمدلاسه مې دواخانې په لور حرکت وکړ، هلته په رسیدو مې لږه دمه جوړه کړه، څو شیبې وروسته مې پلار ته وویل چې زه به کور ته لاړ شم چې بیا د میوند دوی کره هم ځم، پلار مې راته سمه ده وکړل راته یې وویل چې کور ته لاړ شه هلته دې خور هم درته انتظار باسي هغه هم درسره ځي، ومې ویل سمه ده پلارجانه.

پلار مې پیسې راکړې او رخصت مې ورنه واخیست د کور په طرف روان شوم، کور ته په رسیدو مې مور، خور او وروڼو سره ستړي مه شۍ او د روغ، جوړ پوښتنه وکړه، موده بعد مې ځان تیار کړ، د کلي موټروان ته مې زنګ وکړ چې مونږ سره د میوند دوی تر کلي پورې لاړ شي، نیږدې نیم ساعت وروسته په لکښو کې د میوند دوی کلي کې له موټر ښکته شوو، موټروان مې رخصت کړ او میوند ته مې زنګ وکړ چې موږ راورسیدو لارې ته راووځه، پنځه دقیقې وروسته میوند راورسیدو له روغبړ وروسته د دوی د کور په طرف روان شوو.

کور ته په رسیدو مو ټولو سره ستړي مه شۍ وکړ، زموږ د راتګ نه یوه ورځ مخکې مې د مشر ترورزي یوه ښینه(زما د ترورزي د میرمنې خور) عایشه راغلي وه. ما هغه په لومړي ځل ولیده ډېره ښایسته او اخلاقي انجلۍ وه، په لومړي ځل لیدو مې بیخي بل ډول نا اشنا احساس وکړ، یو ډول یې تر اغیزې لاندې راغلم، بس دا مې د ژوند هغه شیبې وې چې د ښایستونو پدې لویه دنیا کې مې د خدای تعالی پر یوه ښکلي بشر زړه وبایله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې زما لپاره له دې وروسته هره شيبه بدله کړه او جلا احساس يې راوبخښه، سبا نه بل سبا واده وو خو زما فکر ټول په هغې راټول و، يو رقم يې هر خوند او رنګ په ځان پورې راته پدې څو شيبو ليدو کې محدود کړی وو، بس په ليدو به مې پر زړه د خوښۍ يوه داسې څپه راغله چې ما له دې وړاندې نه وه حس کړي، هغه مې يوازې ليدلی شوه، خبرې مې ورسره نشوې کولی، داسې فکر مې کولو چې که ورسره مخامخ شم او خبرې وکړم نو خلک به غلط ګمان وکړي، د واده ورځ راورسيده زما خور او عايشه زما د ترور لور سره په واده کې لاړې ځکه واده په بدل شوی وو.

د واده دوهمه ورځ وه چې خور مې او عايشه دواړه بېرته کور ته راستنې شوې، خپل کور مې د هغې په ياد کې بيخي هېر شوی و بس دا ځای راته د هغې په شتون کې هرڅه وو. دا چې د عايشې تر مخ ډېر زيات شرميدم نو زما خور ته يې ويلي وو چې ورور ته د ووايه چې زه ترې ستر نه کوم زما څخه د نه شرميږي، ددې خبرې په اوريدو مې بيخي بل ډول احساس وکړ او حيران شوم، چې زما خور ته يې داسې خبره ولې کړي.

بله ورځ مې خور راته وويل چې سبا کور ته ځوو، د جمعې د ورځې په مازديګر خپل کور ته راغلوو، خفه وم له ځان سره مې ميوند هم راوستو، کور کې مې مور، پلار او کوچنی ورور نه وو، هغوی مې بلې ترور کره لاړ وو، دا وخت مې د خور سره د خبرو ډېره ښه موقع وه، له خور مې د عايشې په اړه وپوښتل، چې څنګه انجلۍ ده، هغې راته وويل چې ډېره ښه جلکۍ ده په ښايست او اخلاقو کې ورباندې تمامه ده، خو هغه واده شوې ده.

د خور ددې خبرې په اوريدو مې حالت هغه ماشوم ته ورته شو لکه چا چې ترې د لوبو ټول شيان مات کړي وي، زړه مې مات شو، په لومړي ځل مې دا تجربه کړه چې په مينه کې ناکام شوم، هېڅ نه پوهيدم چې څه وکړم او څه ووايم خو هرڅه مې زړه کې وساتل.

د دريو هفتو رخصتيو وروسته بېرته په مات زړه کابل ته لاړم، وخت تيريدو خو هرڅه بې خونده وو، هر ګل راته پر خپل ډنډر مات معلوميده، نظر مې پر هره ښکلا تت شوی و. شور، خوند او رنګ مې يوې خزان وهلې ونې ته ورته شوی وو، لکه ښکلا او تازه ګي يې چې د زېړو پاڼو په تويدلو کې له منځه تللي وي. هغه مې هېڅ له زړه نه وته، ډېر بې وسه وم ځکه چې هغه يوه واده شوې انجلۍ وه، هېڅ مې هم نشو کولی، خو داسې يو څه هم وو چې کله به مې يې په اړه فکر وکړ نو د زړه د سمندر څپو ته به يې خوځښت راوښښه، هغه دا و چې خور مې هغې ته په واده کې ويلي وو چې که ته چېرته کوژده شوې نه وه نو، زما ورور ته مو خامخا په نوم (کوژده) کولې، هغې يې په ځواب کې ورته ويلي وو چې نو څه خبره ده اوس مې ورته وکړئ، ما ته به يې چې دا خبره رايادۀ شوه نو دا فکر به مې کولو چې شايد هغې ته به هم ګران يم او خوښ به يې يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**یوه ورځ مې له دوو ترورزيو ميوند او امېد دواړو سره زما دا ټوله کيسه شريکه کړه، خو ددې پر ځای چې هغوی ماته ډاډ راکړي، راته يي وويل چې ته ليونی شوی يې دا هرڅه له ذهن وباسه او دا خبرې هېرې کړه، هغه يوه واده شوي انجلۍ ده زما زړه هېڅ  نه منل او بې پروا و.**

**وخت تيريدو او دا هره شيبه درد به مې زغمه، بيا مې يوه ورځ ميوند ته زنګ ووهه، او د عايشې د نمبر په اړه مې ورته وويل خو هغې بيا راته همغه پخوانۍ خبرې وکړې او وېې ويل چې هغه موبايل او نمبر نه لري، د هغې د کوژدې په اړه يې دا خبره هم راته وکړه چې عايشه د خپلې کوژدې په اړه ناخبره وه او پرې خوښه هم نده، عايشې زما خور ته دا هم ويلي وو چې زه موبايل لرم خو له خپل کوژدن سره نه غږېږم، او دا خبره مې ماته خور کړي وه ما ميوند ته وويل چې موبايل او نمبر دواړه لري خو ته ورنه خبر نه يې، هغه راته وويل چې ته بيا له کومه خبر شوې؟ ورته مي وويل چې هغې خپله زما خور ته ويلي وو ته به اوس فقط ماته د هغې نمبر راپيدا کړې نور هرڅه زه کوم، خو هغې تل خپل ضد کاوه او نه يې منله خو اخېر مې هم رضا کړ چې نمبر به راته پيدا کوي، ميوند هم په خوست کې په يوه لابراتوار کې کار کوه او يوازې به د جمعې په شپه خپل کور ته تلو، د جمعې ورځ راغله هغه کور ته لاړ وو د شنبې په شپه مې زنګ ورته ووهه د روغ، جوړ پوښتنه مو وکړه بيا مې ورته وويل چې څه دې وکړل نمبر پيدا شوو او که نه؟ هغې راته وويل چې زه يې زما د ورينداريې په موبايل کې نمبر ګورم خو موقع راته نه پيدا کيږي چې د هغې موبايل کې  يې وګورم، سبا سهار ته په يوه بهانه موبايل ورنه اخلم زه به سبا ته معلومات درکوم، دا يې وويل خدای په اماني مو وکړه او زنګ مو قطع کړ، شپه هم تېره شوه د شنبې ورځ هم تېره شوه او د يکشنبې په ورځ مې زنګ ورته وکړ د روغ، جوړ پوښتنه مو وکړه بيا مې ورته وويل چې څه دې وکړل ياره زه خو دې په انتظار مړ کړم، هغې راته وويل چې په خدای بيخي رانه هېر شوی وي چې کور نه راووتم لار کې را په زړه شوو خو ته صبر ولره د صبر ميوه خواږه وي او د خوراک نه يې تمه ښه ده، ورته مې وويل چې ته دا خبرې پرېږده، خو ګوره چې بيا يې داسې هېر نه کړې. هغه سمه ده وکړل او اړيکه مو قطع کړه.**

**تر بلې جمعې راته انتظار د کال غوندې شوو، د سه شنبې په شپه مې ميوند ته زنګ وکړ جوړ پخير نه وروسته مې ورته  وويل هلکه! ګوره چې زما کار درنه هېر نشي راتلونکي جمعې په ورځ يې بايد ختماً غم راته وخورې، خو هغې يو ډېر منفي او ناهيلی ځواب راکړ راته يې وويل ګوره! څه چې ته او ستا زړه غواړي، دا امکان نه لري، ته بايد نور له دا ډول خبرو او فکرونو تېر شې، زه درسره دا مرسته نشم کولی، دا يې وويل او زنګ يې قطع کړ.**

**زما ټوله تمه يو خدای ته وه، يو ميوند ته خو د ده دغه خبره لکه يو سيلاب غوندې شوه او زما په زړه کې يې د نوي جوړيدونکي ښار ټولې ودانۍ را ورانې او ويجاړې کړې، خپل ځان مې د بصير احمد سُرور په دغه بيت کې وليده چې..............**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناهیلي څه ده، خو رڼا لپاره

په مړو ایرو باندې ډیوه بلوم

د میوند په دغو خبرو مې مړې ایرې هم له لاسه ووتې، او په زړه کې مې د عایشې په لیدو روښانه شوی څراغ د تل لپاره مړ شو، هغه د بل شوه او ماته یې فقط یادونه راپاتې شول.

## پای

## واده شوي انجلۍ سره مینه

لیکوال: صفی الله همدرد
ترتیب او ډیزاین: صفی الله همدرد
کال: ۱۴۰۳ / 2024

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**